Share

Twittern


پوهاند دوکتورم.ا. زیار

اکسفورډ، مارچ ۲۰۱۳

# د کابل جنګونه (۱۳۷۱-۱۳۷۵)

## د جنرال سیدعبدالقدوس(( سید))انکار نه منونکی

## ربنتینی انځور




((موږ افغانان له تېر تاريخه څه نه زده کوو او هماغه تېر له سره بيا بيا راپيلوو، نو له همدې لامله پرلپسې پر شا درومو او د پر مختګ مخه پخپله ډپوو))

په همدې موخه يو ربنتينی هېواديال سرتېری راولاړېږي،د تويک پرځای قلم په ګوتوکې نيسي، او دکورنيو او بهرنيو جنګي جنايتکارانو د پرده پوښلو مخونو په بربندولو سره د ملي تاريخ همغه تورترين ځېرکی هو بهو دخپل غولولي او غمو لي افغان ولس مخې ته ږدي...

د جنرال سيد عبدالقدوس سيد ۳۸۷ مخيز کتاب پردوتنه دوې جوړي انځورونه هر لوستونکی وار له مخه پر دې بسيا کوي چې په پېنځکلنه تنظيمواکی ياد تنظيمواکانو په خپله نومونه تش په نامه ((ا سلامواکی))کې څه زړه بوږنوونکې ناخوالې او بخولې ګرد هېواد او په ځانګړې ډول، پلازمېنې کابل او زرګونو زرګونو بېګناهو استوګنو ګاللي او زغملي دي... او هممهاله د اړوندو ملي- تاريخي يادګارونو دېخوانيو آرو بنو او روستنيوکنډ والو پرتله هغه بېلنديه کربښه سترګوته نيغه رادروي چې دحق وباطل ترمنځ تېرېږي!

پر وړاندې يې درغلي انقلابي او جهادي قلموالو دا هڅه کړې چې دغه ګرد نټه نه منونکي سترګوليدلي ناورينونه او ناتارونه د خپلو فرکسيوني او تنظيمي ډلو ټپلو د سپيناوي او د نورو دګرماوي په موخه مسخه کړي، د چاخبره((خپله درنه او دبل سپکه)) ووايي، او ورسره ورسره د جنګ و جهل و جنايت ځپلي افغان ولس د بيا بيا غولولو او د سيمې او نړې پر کچ ځنې د بېلابېلو باداراتو د خوشا لولو لپاره پنډ و پېر کتابونه ورغوي او خپاره.کاندي.

ښايي، د ډېرو بې پلوه او ناپيلو، په تېره ((پينټنو)) روښاندانوته دا هېښنده وبر ښني چې څنګه د اخواني-ستمي او بيا(شمالي ټلوالي)) په آر ټاټوبي او منځی کې دې يو داسې سرتېری سر راهسک کړي چې د اړوندو جنګي جنايتکارانو له جنايتونو پرده پورته کاندي او داستاد الفت له وراشي سره سم ((نه ويل کېدونکي ليدلي)) په ټوله افغاني او ځانګيوهيزه مېرانه او ربنتينوالې هوبهو وانځوري او هله يې د بې پلوه هېوادوالو او نړيوالو ورمند(قضاوت) ته وړاندې کړي.

هرګوره، د تش په نامه ((ديموکراتيک انقلاب)) او ((جهادي- اسلامي انقلاب)) په تراو د پيلو او ناپيلوليکوالو څېړنوالو د خَرو خَرو ليکنو او بياپنډ پنډکتابونو له منځ منځه دا سې نيممخي انځورونه هم را چاپلای شو چې ډېر



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولۍ

((ناويلي ليدلي)) پر خبرو راولي. لکه واخلې د اروابشادپوهندوی واسع قرار نېټه ليکونه او د استاد شهرت ننګيال يونليکونه، او دادی، د ټولو په سر سرکې يو بل انسان مين افغان جنرال سيد عبدالقدوس سيدلا بشپړ انځورونه چې په هراړخيز او يوځايي توګه يې پکې هغه ګرد انساني ضد او افغاني ضدکړنې سپړلې او ډاګيزه کړې دي.

استادننګيال په هره توګه په يوڅه ارام تشيال کې خپل هغه کښلي او خپاره کړي، خو د استاد قرار خپل دا د اور و وينو په توپان کې راپيل کړي ول او هماغه توپان ترې له ژوند سره يوځای تالاترغی کړل..قرار د کابل د جنګونو په هماغو سختو غر غنډو کې ښکېل پاتې وو، هغه هم د لو مړيو مېکروريانو په خپل درې خونيز اپارتمان کې چې مېرمن يې له وړکی لور سره په ړومبيو شپېو کې هاغاړې مېکر وريا نو ته ورپورېوتې وه.

دی د دوستم- حکمتيار د ټوپکمارو له رارسېدو سره نور له کوره راوتای نه شو، ځکه د جبهې په لومړنی ليکه کې يې ټيکاو درلود. له مخامخ نه پرې د مسعود ټلوالې راورول او له شا او خوانه پرې دې بلې شپه او ورځ يوه کړې وه. په تېره دوستميان چې نه يې د چا پر سرومال اړي کوله او نه دچا پر ننګ و ناموس.

(قهرافغان، رحم وزبک) متل خو يې لا وار له مخه په ځو کلنو جنګونو جنايتونو کې پر زباد رسولی وو او د((ګلم جم)) نوم يې لاڅه کړې، څه کړې!

پوهندوی قرار د وره پر وره ګاونډي مشر تاريخپوه استادپوهاند حسن ضمير ساپي په هڅونه او لارښوونه په هماغه ناورين و ناتارکې قلم و کاغذ راخېستي ول،.هم يې د کړکی له لارې چاودنې او دکانکرېټې اپارتمانونو ړنګېدنې د ښکېلو بلهاريانو له چغو او ژړاوو انګولاوو او نارو سورو سره سيده پر سيده يادښتولې او هم يې د ترانزېستور او تېلېفون له لارې ترلاسه کړي لومړی لاس خبرونه او ګوزارشونه را خوندي کول.

همداچې ګلم جمان يې پر رڼا ورځ د نورو استوګنو په لړکې پرکوروړننوتل اود ما شينګنوخولې يې ورواړولې، همدومره يې وکړای شول،له درست هست و نېسته ترې هماغه ډک کړي کاغذ ونه په ډېرو زاريو جګيو راوژغوري او ترپېښو ره يې راورسوي. هغه يې لکه سوی لاس له ځان سره ګرځول راګرځول، خو له دې يې څه باګه چې له بيرته تګ سره يې له مرګه پاتې کېږي.

له دې خبرسره سم يې چې جنګونه دخوړې مسعود پر بري يوڅه ساړه شوي، مخ پر کابل ترپلل، هغه هم په دې اسره چې نور ليد لي اورېدلي پرې ورزيات کاندې. دا چې پر زياتونو او بشپړونويې څومره بريالی شوی يانه، خو ميا شت دوې روسته يې همدو مره پته ولګېده چې اجل نيولی په خپلې ورکې پسې پوهنتون ته تللی او د بترين ((چنګېزي)) بربريت بلهاري شوی دی!

داروابشاد پوهندوی واسع قرار نېټه ليکونه په خپله برخه کې هغه کمپيښې لاسوندونه ول چې د پېنځکلنو جنګونو او جنايتونو ليکوال پسې سترګې کچکول کړې چې که يې ترګوتوکړای شي او په دويم را پيل کړي ټوک کې يې راونغاړي. ما هم ورسره ټينګه ژمنه کړې چې ګوندي کابل ته په نژدې پتېيلي يانه (سفرکې) د اروابشاد تاريخپوه د کوم ژوندي پاتې کورنې غړي پته ولګو لای شم او ورسره ورسره د هغې ګرا نبيې پاتمړې څرک ورواپستای شم!

هسې خو، که خدای مکړه، د هڅاند او رياليست ليکوال جنرال سيد هغه نېټه ليکونه پر لاس هم ور نه شي اود دويم ټوک په ښه ترا بشپړتياکې ځنې هم کار وانه خلي او يايې ګړسره بشپړ هم نه شي کړای، په همدغه لومړی ټوک کې يې دومره څه را نغښتي چې کولای شي، نه يوازې پر هېوادنې، بلکې پرجهاني کچ د بترينو بشر ضد جنګي جنايتونو

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د یوه نټه نه منونکي لاسوند په توګه د بشري ربنتو د ټو لو سازمانونو د پام و غور وړ وګرځوي او ترسره کوونکي یې د هاګ محکمې ته وروکاږي.

مېرني جنرال په ټوله ځانګيزه سیاسي او پوځي پوهه څه پخپله او څه او د بلهارو کورنیو د پاتوړو او نورو بې پرې عیني شاهدانو سترګوليدلي او قلم ليکلي او ورسره ورسره پر لاس ورغلي باوري اخځونه او لاسوندونه په دومره ځیرتیا(دقت) تر ځیر نې او شننې لاندې نیولي چې له پارسي پرته یو نیم پښتو یاوزبکي خبره (نقل قول) همااغه آره ژبنۍ بڼه هو بهو راخپستي. د بېلګې په توګه، کله چې د دو کتور نجیب پلوي(اتل جبار هېلمندي) تر بولۍ لاندې)کوم سرتېرې په زړومېکرو ریانوکې د شپې ناوخته د یوه چا ور ټکوي او د خپل ملګرې د ټپ پانسمانولو لپاره ترې لاټين ترلاسه کوي، نو (کور مو ودان) یې همداسې را یادښتوي **(۱۹۴)**.

لیکنی سبک و ستایل یې په ټوله ماناد یوې کره- ادبي پارسي، په بله وینا،دري-پارسي آرومعیار ښکارندويې کوي او ورسره ورسره یې دا هڅه کړې، زهرژلي ترخې ربنتیاوې(واقعیتونه)، لکه د شاتو شودو هومره په زړه راکښونکې خوږه ژبه وړاندې کړي او مینه والو ته یې د لوستنې او سهنې جوګه کاندې؛ له بده مرغه پر وړاندې یې زموږ پښتو تراوسه ((یوې-کره لیکنۍ)) بنې ته لوړتیا نه ده موندلې، پاتې لا یوه ادبي سبک و ستایل ته.

د(( نبي اله)) او ((ګلشېرې)) د مینې او وینې یو ژوندی تراژیکي پېښې ته یې یوه داسې ولولیزه (عاطفي) او رومانتیکه داستاني بڼه ورکړې چې ډېر بې توپیره هېواد وال یې هم لوستنې ته راڅکوي. ټولیز مینه ال خو په هره توګه دومره تر اغېز لاندې راولي چې دیوې اوږدې شپې لپاره دکابل ښاراو ښاریانو زړه ویلوو نکي تراژېدۍ ځنې له یاده وباسي او ورسره یوه ارامه غوندې ساواخلي.

**ددغې پېښې او کیسې لنډیز په دې څو کرښنو کې رانغښتلای شو:**

دا پېښه د (ده افغانانو) په هغه ارته بیرته اډه کې رامنځته شوې چې یوه ډېره ګنمېشتې سیمه( (خیرخانه مېنه) او شاوخوا د کابل ښار له منځې سره ترې، څه تر واکمنې له مخه او څه د واک و ځواک، په نورو ټکو، دنیواک و بلوساک (اشغال و تجاوز) پر مهال، په تېره په پېنځکلنو تنظیمي جنګونو کې د جه ادي جګړه مارو او جتایکارانو له سختو خونړیو وژنځایونو څخه بلل کېده.

لمرپرېواته مهال نبي اله د حربي پوهنتون د دربېم کال زده کړیال د سوونو نورو په څېر ټاکلي سپرلی ګاډي ته سترګي پرلار ولاړدی. څوګامه وړاندې یې یوې دنګې نیم مخپټې نجلۍ ته پام وراو ښتی چې دا هم د اړوند ګاډي په تمه لره بره کېږي او کوم یو چې راهم شي، له ډېر بیروبار او تېل ماتېله نژدې ورتلای نه شي. ځکه د توغندیو له وېرې هر څوک غواړي، ژر تر ژره په هره خوارۍ او الاکۍ چې وي، له هغه ځایه پښې سپکې کړي... .

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

نبي ته، بلاتشبيه لکه وحي راغلي وي، له پورته کتو سره يوه برېښناوزمه پرک سترګي ور برېښوي ، بي واره يي هغي نجلی ته وردانګي او له ځان سره يي پر ځمکه راغورځوي، ياپه پوځي نومونه ورسره((پروت)) کوي. هغه چي له بورنوړي اکر بکره را پرسد شوه، سترګي يي پر نبي ونښتي او په يوه سايي ځني خوځله خپله مننه راغبرګه کړه.

نبي چي له ځمکي را پورته کړه، ګوري چي پر څټ يي کومه سرخنده چره لګېدلي اوسره وينه تري راڅاڅي، هغه په څپوني ور بندوي او په ټکسي کي يي تر څلور سوه بستر (داودخان) پوځي روغتونه ر سوي...

د درملني ورځ دوه دواړو دا کابو تر لاسه کړه چي خپله راتلونکي سره شريکه کاندي، خو له بده مرغه، برخليک دومره کابو ورنه کړه چي هغه مينه وړي ترون يي تر کوژدې او واده ورسي.

د نبي مېړانه او راتلونکي افسري د اور و وينو د استازيو پر زړونو نه ځايېږي، سينه ور څېروي او ګلشبره هم د تل لپاره ژوندی ژړانده ځانته ارمانژلي پرېږدي... ( جنگ های کابل، ۲۰۰- ۲۱۰ **مخ).**

له ګران او هڅاند شاعر او ليکوال عنايت پويان څخه ډېر مننديه يو چي له څه مهال راهيسي د جنرال سيد صاحب دکمساری اثر بشپړې پښتو ژباړې ته اوړه ورکړې ده. ګوندې ورپېښه ناروغي ورته دومره کابو ورکړي چي تر سره يي ورسوي او د لروبرو پښتنو د لوست جوګه کولو سره يي د مينه والو کړی لاپسي وروغځوي.

د دواړو درنو فرهنګي ستو د بري او نېکمرغی په هيله!

---

د پاڼو شميره: له ٤ تر ٤